# رسنیزه اعلامیه

**۲۰۲۳ د اگست ۱۵مه**

د ۲۰۲۱ کال د اگست پر ۱۵مه، د طالبانو اسلامي امارت بیاځلي پر افغانستان مسلط شو. له هغې وخته تر اوسه دوه کاله تیریږي، او په دې موده کې موږ په بېلابېلو برخو کې د مهمو بدلونونو شاهدان وو، چې د بشر حقونو پر وضعیت یې خورا منفي او زیانمنوونکې اغېزې او پایلې درلودې. لکه څنګه چې طالبانو د واک له نیولو وروسته په قصدي او هدفي اقداماتو سره د څو وروستیو لسیزو حقوق بشري لاسته راوړنې لکه هغه مثبت او ارزښتمن پرمختګونه چې د قانون جوړونې او د افغانانو د حقونو او هیوادنیو آزادیو د تضمین په برخه کې شوي ؤ، له منځه یوړل، او د اساسي قانون پر بنسټ رامنځته شوي ملاتړیز جوړښتونه یې لغوه کړل، لکه د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمیسیون، د ښځو چارو وزارت، او د عدلي او قضایي بنسټونو مهمې برخې. پر همدې بنسټ، دا مهال نه د خلکو د حقونو او انساني آزادیو د ساتنې لپاره کوم قانون شته او نه بل کوم حقوقي او ملاتړیز میکانیزم او لاره چې د بشر حقونو د نقض ترسره کوونکي ځواب ویلو ته اړباسي او د عدالت له اجرا سره مرسته وکړي.

طالبان دا مهال د هر ډول لیکلي او تدوین شوي قانون په نشتوالي کې، له هر ډول ځواب ویلو څخه د بشپړ مصئونیت احساس کوي، او په پراخه توګه یې د هیوادوالو د اساسي حقونو پر نقض لاس پورې کړی. لکه څنګه چې په تېرو دوو کلونو کې، هغوی پر خپلو هدفي او سازمان شویو اقداماتو سره ښځې له ټولنې څخه حذف کړې دي، او په تدریج سره یې له خپلو ډېرو بنسټیزو حقونو، لکه د برخلیک په ټاکلو کې ګډون، د تعلیم حق، د کار حق او د آزاد تګ راتګ حق څخه محرومې کړې دي. که څه هم دې مسئلې پراخ داخلي او بین المللي اعتراضونه راوپارول، او ډېری عدالت غوښتونکو ښځو او نارینه ؤ د هیواد په بېلابېلو برخو کې بیا بیا اعتراضونه او لاریونونه وکړل. تر دې چې ډېر شمېر اعتراض کوونکي ونیول شول، شکنجه او حتا پر ځینو معترضو ښځو جنسي تیري هم وشو، او یو شمېر اعتراض کوونکي ووژل شول. طالبانو وښوده چې له هرې تاوتریخجنې وسیلې او طریقې څخه په استفاده، او د خپل چلند له عواقبو څخه له هر ډول وېرې پرته، مخالف او معترض غږونه ځپي.
همدا راز، طالبانو په تېرو دوو کلونو کې د بیان آزادي او اطلاعاتو ته لاسرسی په بې مخینې ډول محدود کړې دي، او د مخکني حکومت له کارکوونکو، د بشر حقونو له فعالانو، خبریالانو، او خپلو مخالفینو او منتقدینو څخه مرګوني انتقام اخستلو ته یې دوام ورکړی. د مخکني حکومت د کارکوونکو د کورنیو د ځینو غړو په ګډون یې په سلګونه افراد په هدفي او پلان شوې بڼه نیولي، ربړولي او وژلي دي. سربېره پر دې، رواداري د تېرو دوو کلونو په اوږدو کې د خلکو د اجباري تړي تم کولو ډېر موارد مستند کړي، چې د طالبانو له خوا د هیواد په بېلابېلو سیمو کې ترسره شوي دي.
قومي او مذهبي لږکي هم په تېرو دوو کلونو کې د ډول ډول توپیري چلندونو سره مخ شوي او له قومي او مذهبي ډلو سره تړلي سلګونه کورنۍ په جبري ډول کډوالۍ ته اړېستل شوې او مالونه او شتمنۍ یې غصب شوي دي.

رواداري بنسټ، واک ته د طالبانو له رسېدو سره سم، له شته امکاناتو، ظرفیتونو او سرچینو څخه په ګټې اخیستنې، د روان وضعیت د څارنې اقدام کړی، او په منظم او پرله پسې ډول یې د بشر حقونو د

نقض موارد مستند کړي دي، لکه څنګه چې تر اوسه یې د بشر حقونو د نقض د پېښو پنځه ځانګړي او تفصیلي راپورونه خپاره کړي دي. د روادارۍ موندنې او د پلټنو پایلې ښیي، چې د طالبانو په دوه کلن حاکمیت کې د بشر حقونو وضعیت په بېلابېلو اړخونو کې لا ډېر خراب شوی، او د بشر حقونو اصولو او معیارونو ته د درناوي لپاره د طالبانو د اړیستلو بین المللي هڅو هم مثبتې پایلې نه درلودې، ځکه، د شته شواهدو پر بنسټ طالبانو د هرې ورځې په تېرېدو سره د هیوادوالو پر عمومي آزادیو لا سخت مقررات او لا ډېر محدودیتونه وضعه کړي، او په ځانګړي ډول یې د افغانستان د ښځو او نجونو ډېر حقونه سلب کړي دي.

په افغانستان کې د بشري حقونو بحران او جنسیتي آپارتاید به د هیواد د امنیت او اقتصادي سوکالۍ لپاره زیانمنوونکې او اوږدمهالې پایلې ولري. د اوسني وضعیت دوام ټولنیز درزونه، فقر او اقتصادي ترلتیا لا زیات کړي. په تېرو دوو کلونو کې افغانانو په ځانګړي ډول ښځو په هیواد د ننه او بهر، د طالبانو ځپونکو اقداماتو سره سره، خپل حق غوښتونکي غږونه په سوله ییز او واضحه توګه پورته کړي دي. اوس د دې وخت دی چې طالبان د دغو غوښتنو او حقونو په منلو سره د هیوادوالو د بشري حقونو د رعایت پر لور ګام پورته کړي، او په افغانستان کې د شخړې او فقر د دوام احتمال کم کړي.

پای